بسم الله الرحمن الرحيم

ستره محکمه

# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمایي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې ایښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ،که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

شنبه ۱۱ تله ۱۴۰۵ هـ ش | ۲۰ ربیع الآخر ۱۴۴۸ هـ ق | ۳ اکتوبر ۲۰۲۶ م | مسلسله شمېره (۱۴۸)

## د سترې محکمې امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست اړوند خالد بن ولید (رضي الله عنه) تعلیمي مرکز له نهمې دورې څخه (۱۰۷) مجاهدین فارغ شول

د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي ریاست اړوند د حضرت خالد بن ولید (رضي الله عنه) قومانداني د نظامي او مسلکي زده کړو له نهمې دورې څخه په (۱۵/ربیع الآخر/ ۱۴۴۸هـ ق) نېټه (۱۰۷) مجاهدین فارغ شول.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو محترم رئیس الحاج مولوي نجیب الله رفیع صاحب، اداري او تأميناتي معاون قاري فرید احمد همت صاحب، د حضرت خالد بن ولید (رضي الله عنه) د تعلیمي مرکز قوماندان الحاج مولوي محمد ابراهیم برهان صاحب او نورو مسئولینو او منسوبینو ګډون درلود.

غونډه د حافظ مولوي حضرت ولي لخوا د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو محترم رئیس الحاج مولوي نجیب الله (رفیع) صاحب مجاهدینو ته له نظامي مسلکي زده کړو څخه د فراغت مبارکي ورکړه او وویل، د اسلامي نظام د لا استحکام لپاره مو، چې دا د اعداد سترپاوې په مینه او پوره اخلاص تیرې کړې، په راتلونکې کې یې هم په اخلاص او صداقت جاري وساتئ.

الحاج مولوي نجیب الله (رفیع) صاحب د اعداد د اړتیا او د امیرانو د اطاعت په اړه تفصیلي خبرې وکړې او مجاهدینو ته یې په خطاب کې وویل، دا د اعداد سترپاوو په مینه پاللو او د امیرانو د رښتیني اطاعت برکت دي، چې په اوسني عصر کې زموږ په ګران ملک کې اسلامي نظام حاکم دی او د الله تعالی حدود جاري کېږي.

د غونډې په دوام د دعوت او ارشاد عمومي مدیریت مدرس الحاج مولوي عبدالله جان عابد نویو فارغینو ته مبارکي ورکړه وویل، د الله تعالی له لوري بنده ته په ورکړل شوي نعمت شکر ایستل لازمي دي او تر ټولو لوی نعمت اسلامي حاکمیت او آزادي ده، چې دغه لوی نعمتونه الله تعالی افغانانو ته نصیب کړل.

د دغه لویو نعمتونو شکر اداینه د اسلامي نظام د امیرانو په پوره اطاعت او ایمانداریٔ سره وکړئ؛ تر څو الله تعالی درڅخه راضي او د دنیا او آخرت د سعادت سبب وګرځي .

یاده غونډه مجاهدینو ته د تصدیق پاڼو له ورکړې وروسته د اختتامیه دعاء په ویلوسره پای ته ورسېده.

## د قضائي تفتیش عمومي ریاست مفتشینو د نورستان ولایت له محاکمو او مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه

د سترې محکمې محترم مقام په هدایت د قضائي پلټنې د عمومي ریاست یو مؤظف پلاوي د محترم مولوي عبدالله (ذکي) په مشرۍ؛ چې مولوي عبدالولي (مصباح) او مولوي مطیع الحق (اصف) یې غړیتوب درلود، د روان ۱۴۴۸ هـ ق کال ربیع الأول میاشتې په ۲۰مه نېټه نورستان ولایت ته د محاکمو د تېرو فعالیتونو د څېړنو په موخه سفر وکړ.

د لیدنې په پیل کې یاد هیئت د مرافعه محکمې له رئیس سره وکتل؛ ورپسې یې د بندیانو د ستونزو د څېړلو په موخه د نورستان ولایت له مرکزي زندان او توقیف خونې څخه لیدنه وکړه، د یاد محبس او توقیف خونې اړوند نارینه‌وو او ښځینه‌وو بندیانو بشپړ شهرت، کیفیت او اړتیاوې یې له ځان سره یادداشت او بیا یې له اړوند محاکمو سره شریک کړل.

هیئت د خپل کاري پلان له مخې د یاد ولایت (۹) ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو، د حقوقو مدیریتونو، د ښاري او مرافعه محاکمو اړوند دېوانونو، د اسنادو، مخزن، وثایقو او حقوقو آمریتونو څخه جلا جلا لیدنه وکړه.

یاد هیئت د پلټنې بهیر په ترڅ کې د یادو محاکمو د قضائي، اداري او مالي چارو هراړخیزه پلټنه وکړه، د محاکمو د قضائي او اداري پرسونل د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات یې واخیستل او د چارو د سمون په برخه کې یې ورته لازمي لارښوونې وکړې.

دغه راز یاد هیئت د محاکمو اړوند شته ستونزې، کاري خنډونه او نیمګړتیاوې له ځان سره یادداشت او په پای کې یې د ستونزو د حل، د خنډونو له منځه وړلو او د نیمګړتیاوو د اکمال په اړه د نورستان ولایت مرافعه محکمې له مقام سره تفاهمي ناسته وکړه او اړوند ستونزې یې په جلا جلا توګه ورسره شریکې کړې.

د پلټنې هیئت د خپل سفر په جریان کې د یاد ولایت د والي له مرستیال، د ولسوالیو له ولسوالانو او د نورو ارګانونو له مسئولینو سره ناستې وکړې او د محاکمو د فعالیتونو د لا ښه پرمختګ او ځینو اړونده ستونزو د حل په موخه یې د هغوی نظرونه واورېدل.

د پلټنې هیئت یاد له لاسته راوړنو ډک سفر د ۱۴۴۸ هـ ق کال د ربیع الآخر میاشتې په ۶مه نېټه پای ته ورسېد.

## د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت اوو (۷) آمریتونو په دوو اونیو کې (۱۲۹۹) بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي

د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت اوو (۷) آمریتونو په دوو اونیو کې له (۱۶/ ۳/ ۱۴۴۸ هـ ق څخه تر ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۸ هـ ق) نېټې پورې (۱۲۹۹) بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**۱- د سندونو او وثیقو د ثبت لومړۍ حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت لومړۍ حوزې په دوو اونیو کې (۲۱) نکاح خطونه، (۱۷) زوجیت خطونه او (۹۴) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۲- د سندونو او وثیقو د ثبت دویمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت دویمې حوزې په دوو اونیو کې (۷۸) نکاح خطونه، (۲۶) قبالې، (۵) زوجیت خطونه او (۱۱۳) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۳- د سندونو او وثیقو د ثبت درېیمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت درېیمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۹۹) نکاح خطونه، (۱۵) قبالې، (۱۳) زوجیت خطونه او (۱۱۰) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۴- د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمې حوزې په دوو اونیو کې (۷۴) نکاح خطونه، (۱۰) قبالې، (۴) زوجیت خطونه او (۵۹) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۵- د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمې حوزې په دوو اونیو کې (۱۱۶) نکاح خطونه، (۱۶) قبالې، (۹) زوجیت خطونه او (۷۲) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۶- د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمې حوزې په دوو اونیو کې (۹۱) نکاح خطونه، (۱۳) قبالې، (۳) زوجیت خطونه او (۲۰) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۷- د سندونو او وثیقو د ثبت اوومه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت اوومې حوزې په دوو اونیو کې (۵۸) نکاح خطونه، (۲) قبالې، (۵) زوجیت خطونه او (۵۶) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته**
**د عمر فاروق ﷺ په دوره کې قضاء:**
**۲۳مه برخه:**

«او دا دې تا له حقه منع نه کړي، چې تا نن یو حکم کړی وي؛ خو بیا ته بېرته خپل نظر ته ور وګرځې او صواب ته ورسېږې؛ نو بیا هم حق ته را وګرځه؛ ځکه چې پخوانی حق تلپاتې دی او هېڅ شی حق له منځه نه شي وړی او حق ته رجوع کول، له دې غوره دی، چې په باطل کې همدسې پاتې شې»: دا خبره په دې باندې دلیل ده، چې که قاضي په خپله پرېکړه کې تېروتنه کړې وه، د شرعي نص، اجماع او یا د امام له قول څخه یې مخالفت کړی و، نو باید خپله پرېکړه ماته کړي. دا مناسبه نه ده، چې د خلکو له شرمه دې پرېکړې له ماتولو لاس په سر شي؛ ځکه الله ﷻ ته نږدې کېدل او له هغه څخه ډار ورته ډېر غوره دی.

دا یوازې د قاضي په حق کې نه؛ بلکې عامه ده او هر هغه څوک د دې خبرې مخاطب دي، چې له شرعي امورو څخه کوم چا ته ور ښایي؛ نو دعوتګر، مفتي او قاضي په دې خبره کې ټول یو شان دي. که پوه شو، چې تېروتنه یې کړې، خپله رجوع دې څرګنده کړي؛ ځکه د عالم ښویېدل او تېروتنه، د خلکو د فتنې لامل کېږي، لکه څنګه چې ویل کېږي: د عالِم ښویېدنه، د ټول عالَم ښویېدنه ده؛ خو همدا خبرې د قاضي په حق کې ښېځي ډېره د پاملرنې وړ ده؛ ځکه قضاء لازم کوونکې ده.

اخذلیک: د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته، ۷۱ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## رئیس محکمه مرافعه ولایت هرات از محبس عمومی آن ولایت بازدید نمود

محترم مولوی علی گل (حمیدی) رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت هرات؛ به تاریخ ۱۳ /٤ /١٤٤٨ هـ ق با حضورداشت قاری عبدالغفور آمر ارتباط محاکم ریاست تنظیم امور زندان‌ها از بخش توقیف، بخش اناثیه و بخش اطفال محبس عمومی آن ولایت بازدید به عمل آورد.

رئیس محکمه مرافعه در این بازدید، ابتداء مشکلات زندانیان را در چند کتگوری خاص که عبارت از نوع جرم، تاریخ توقیف، سرنوشت محبوسین، تصامیم محکمه مربوطه در قضایای و اظهارات‌شان را به‌طور جداگانه استماع نمود، برای محبوسین اطمینان داد که راجع به قضایای مربوطه و تعین سرنوشت‌شان از سلسله محاکم مربوطه اجراآت شرعی و اصولی صورت می‌گیرد، سعی میشود؛ تا هیچ محبوس بدون سرنوشت در زندان باقی نماند.

سپس برای محاکم مربوطه هدایت لازم داد، تا هرچه زودتر به دوسیه‌های زندانیان رسیدگی شرعی و اصولی صورت گیرد.

## رئیس محکمه مرافعه ولایت بامیان از محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های پنجاب و ورس آن ولایت بازدید نمود

محترم مولوی سید میرآغا (هاشمی) رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت بامیان؛ با همراهی مولوی محمد جمیل (حمیدی) آمر حقوق محکمه مرافعه، به تاریخ ۸ و ۹ ربیع الآخر ١٤٤٨ هـ ق از محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های پنجاب و ورس و مدیریت‌های حقوق شان بازدید نمود.

رئیس محکمه مرافعه در این بازدید، اجراآت و امورات کاری محاکم متذکره را بررسی نمود، در مورد رفتار مسئولین با مراجعین برای شان توصیه لازم صورت گرفت.

همچنان در این بازدید چندین قضیه بزرگ در محاکم متذکره با تلاش رئیس محکمه مرافعه حل و فصل گردید.

## رئیس محکمه مرافعه ولایت تخار از محکمه ابتدائیه شهری آن ولایت بازدید نمود

محترم مولوی نورمحمد (نوری) رئیس محکمه مرافعه ولایت تخار، به تاریخ ١٠ /٤ /١٤٤٨هـ ق از محکمه ابتدائیه شهری و دیوان‌های آن محکمه بازدید نمود.

رئیس محکمه مرافعه در این بازدید، ابتداء کتب اندراج، ثبت فیصله‌ها، ثبت فتوی و سوابق بعضی فیصله‌های اجراء شده، تحت‌کار دیوان‌های محکمه متذکره را بطور دقیق ملاحظه و بررسی نمود و طبق اصول برایشان رهنمائی لازم صورت گرفت.

سپس موصوف بخاطر بهبود امور قضائی و هماهنگی هرچه بیشتر به مسئولین دیوان‌های متذکره گفت، قضایای وارده را با دقت و غور همه جانبه بررسی نمائید، در تحریر قرار و فیصله‌ها رهنمودهای مقام عالی ستره محکمه را در نظر داشته، کوشش نمائید؛ تا هیچ نوع نواقص شرعی و اداری در اجراآت باقی نماند، متحدالمآل‌ها، فرامین، رهنمودها و احکام مقامات مرکزی را مطالعه نموده، طبق آن اجراآت نمائید، اوقات رسمی و حاضری را رعایت نموده و با همدیگر هماهنگی داشته باشید.

در ادامه با رئیس محکمه شهری، رؤسا و اعضای دیوان‌های آن محکمه نیز ملاقات نمود، بخاطر تسریع روند اجراآت، حل و فصل به موقع قضایای وارده، استماع مشکلات مراجعین بحث و تبادل نظر نمودند و غرض بهتر شدن امورات قضائی و اداری محاکم تصامیم لازم گرفته شد.

## رئیس محکمه مرافعه ولایت پروان از آمریت ثبت اسناد و وثایق محکمه ابتدائیه شهری بازدید نمود

محترم الحاج مولوی میرآقا (ذبیح الله خالد) رئیس محکمه مرافعه ولایت پروان؛ به تاریخ ١١ /٤ /١٤٤٨هـ ق از آمریت ثبت اسناد و وثایق محکمه ابتدائیه شهری آن ولایت بازدید نمود.

رئیس محکمه مرافعه در این بازدید، نخست با مولوی نورالله (حماد) رئیس محکمه ابتدائیه شهری، روی بعضی موضوعات روزمره صحبت نمود.

سپس با آمر، مفتی و پرسونل اداری آن آمریت مجلس نموده، یک تعداد کنده جات وثایق مختلف و اسنادهای تحت کار آمریت وثایق را ملاحظه نمود، در رابطه به تسریع امور یومیه به مسئولین مربوطه رهنمائی لازم گردید.

موصوف در ادامه تأکید و یاد آوری نمود که در اجراآت خویش هدایت متحدالمآل شماره (٨) مؤرخ ٤ /٣ /١٤٤٨ هـ ق ریاست عمومی دارالانشاء مقام عالی ستره محکمه را جداً در نظر گرفته در اجراآت روزمره خود عملی نمائید.

در اخیر مشکلات و پیشنهادات، آمریت محکمه متذکره استماع و یاداشت گردید؛ تا در مورد آن رسیدگی صورت گیرد.

## د روزګان ولایت مرافعه محکمې رئیس د یاد ولایت له عمومي زندان څخه لیدنه وکړه

د روزګان ولایت مرافعه محکمې عمومي رئیس الحاج شیخ محمود (ابوالفیض)، د دې محکمې د جزا دیوان مستشار محرر مولوي محمد صابر، د ښاري ابتدائیه محکمې د جزا دیوان مفتي مولوي محمد نعمان، د ښاري ابتدائیه محکمې عامه امنیت دیوان مستشار محرر مولوي عبدالقدیر، د ښاري ابتدائیه محکمې د مدني دیوان مفتي مولوي عبدالمالک (قادري) او اجرائیه مدیر محب الله (نظري) په ملتیا، په ۱۴۴۸/۴/۹ هـ ق نېټه د یاد ولایت له عمومي محبس څخه لیدنه وکړه.

د مرافعه محکمې پلاوي، د لیدنې په پیل کې د عمومي محبس له مسئولینو سره وکتل؛ ورپسې یې د ټولو بندیانو احوال واخیست او له هر بندي سره یې جلا جلا لیدنه وکړه؛ د هغه بندیانو، چې فیصلې یې نه وې شوې، شهرتونه یې یاد داښت او د ټولو بندیانو ستونزې یې واورېدې.

دغه راز یاد پلاوي ټولو بندیانو ته ډاډ ورکړ، چې ستونزې به یې له اړوند محکمې سره شریکې او ژر تر ژره به ورته رسېدنه وشي.

## د بلخ ولایت د مرافعه محکمې رئیس د دغه ولایت د دوو ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو څخه لیدنه وکړه

د بلخ ولایت مرافعه محکمې رئیس محترم الحاج شیخ غلام‌الله (عادل) د دې محکمې د عامه امنیت دیوان رئیس مولوي عبدالسلام (مظهري) او مولوي محمد ویس (ویسا) په ملتیا، د ۱۴۴۸هـ ق کال د ربیع الأول میاشتې په ۲۱مه نېټه د دغه ولایت د مارمل او چهارکنت ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو څخه لیدنه وکړه.

دغه پلاوي د یادو ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو څخه د لیدنې پر مهال د محاکمو قضائي او اداري کارونه وکتل او د قضائي او اداري چارو د لا ښه والي او د خلکو ستونزو ته پر وخت د رسېدنې په موخه یې اړوند مسئولینو ته لازمې سپارښتنې وکړې.

د مرافعه محکمې رئیس او ورسره مل پلاوي، په دې لیدنو کې د ابتدائیه محاکمو صادرې شوې فیصلې او قرارونه هم وکتل او د محاکمو قضائي او اداري غړو ته یې دکار پر شفافیت، د اصولو پر رعایت او دقت باندې ټینګار وکړ، تر څو خلک له بې ځایه سرګردانۍ څخه خلاص شي.

په دې سربېره د مرافعه محکمې پلاوي د چهارکنت ولسوالۍ له مرستیال ولسوال، د استخباراتو مدیر او امنیه قوماندان سره هم وکتل او د اړوندو چارو په اړه یې لازم معلومات او نظریات شریک کړل.

د مرافعه محکمې رئیس په دې لیدنه کې مسئولینو ته د قوي همغږۍ په لرلو ټینګار وکړ، تر څو د خلکو ستونزو ته په خپل وخت رسېدنه وشي.

## د روزګان ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې پلاوي د دغه ولایت د امنیه قوماندانۍ او استخباراتو له نظارت خونو لیدنه وکړه

د روزګان ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې عمومي رئیس الحاج مولوي محمد نبي (محمدي)؛ د یادې محکمې د جزا دیوان رئیس مولوي کلیم الله (ابوالهدي) او د تحریراتو مدیر په ملتیا، په ۹ /۴ /۱۴۴۸هـ ق نېټه د امنیه قوماندانۍ او استخباراتو له نظارت‌خونو څخه لیدنه وکړه.

دغه پلاوي د لیدنې په پیل کې په یادو نظارت‌خونو کې له شته کسانو نظارت وکړ، دکوم بندي چې د نظارت خونې موده پوره وه، هدایت یې ورکړ، چې دوسیې یې ترتیب او ابتدائیه محکمې ته یې راولېږي او کوم کسان، چې د برائت مستحق وو، هغوی ته برائت ورکړل شو.

دغه راز یاد پلاوي مسئولینو ته هدایت وکړ، چې تاسو بندیان تر ټاکلي مودې څخه زیات په بند کې مه ځنډوئ، دوسیې ورته ترتیبوئ او اړوند محکمې ته یې لېږئ.

## محاکم ولایت سمنگان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۸۹) دوسیه، به تعداد (۱۰۵) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت سمنگان طی دو هفته (از ۲۹ /۳ /۱۴۴۸هـ ق الی ۱۱ /۴ /۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۱۸۹) دوسیه، به تعداد (۱۰۵) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۲) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۹) دوسیه فیصله شده، (۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۹) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۸) دوسیه فیصله شده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سمنگان به تعداد (۱۰۵) قطعه وثایق مختلف‌النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د زابل ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۴۷۰) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۰۳) وثیقې هم اجرا کړې دي

د زابل ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، نظامي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱ / ۳ / ۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۳۰ / ۳ / ۱۴۴۸هـ ق) نیټې پورې (۴۷۰) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۰۳) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په یوه میاشت کې (۴۰۵) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۶۳) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۲۶) دوسیې فیصله شوې، (۱۶) دوسیې مکتوبې مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په یوه میاشت کې (۱۶۰) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۰۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۵) دوسیې فیصله شوې، (۹) دوسیې مکتوبې مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د زابل ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۰۳) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت تخار طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۱۱۵۶) دوسیه، به تعداد (۵۶۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، ابتدائیه شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت تخار طی یک ماه (از ۱/ ۳/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۳۰ /۳/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۱۱۵۶) دوسیه، به تعداد (۵۶۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده است ،که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به (۷۰۸) دوسیهٔ حقوقی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۵۴۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۳۳) دوسیه فیصله شده، (۳۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به (۴۴۸) دوسیهٔ جزائی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۱۶۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۶۲) دوسیه فیصله شده، (۲۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۵۶۴) قطعه وثایق مختلف‌النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت بادغیس طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۸۲۰) دوسیه، به تعداد (۳۱۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت بادغیس طی یک ماه (از ۱/ ۳/ ۱۴۴۸ هـ ق الی ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۸ هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۸۲۰) دوسیه، به تعداد (۳۱۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده است، که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۵۸۸) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۹۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۳) دوسیه فیصله شده، (۶۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۴۸) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۴۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۱) دوسیه فیصله شده، (۱۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بادغیس به تعداد (۳۱۹) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت جوزجان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۹۳) دوسیه، به تعداد (۲۶۰) قطعه وثایق نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت جوزجان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری، نظامی، اختصاصی و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۳/ ۱۴۴۸ هـ ق الی ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۸ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۹۹) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۰۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۹) دوسیه فیصله شده، (۲۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۹) دوسیه فیصله شده، (۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت جوزجان به تعداد (۲۶۰) قطعه وثایق نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت دایکندی طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۹۵) دوسیه، به تعداد (۵۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت دایکندی، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۳/ ۱۴۴۸ هـ ق الی ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۸ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۶) دوسیه فیصله شده، (۱۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴) دوسیه فیصله شده، (۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت دایکندی به تعداد (۵۳) قطعه وثایق مختلف‌النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت پنجشیر طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۵۴) دوسیه، به تعداد (۷۸) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت پنجشیر طی دو هفته (از ۱۶/ ۳/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۵۴) دوسیه، به تعداد (۷۸) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است؛ که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۹) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۱) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالی که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰) دوسیه فیصله شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پنجشیر به تعداد (۷۸) قطعه وثایق مختلف‌النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت غزنی طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۷۳) دوسیه، به تعداد (۲۷۵) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری، محکمهٔ نظامی زون غزنی و ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت غزنی طی دو هفته از تاریخ (۱۶ /۳/ ۱۴۴۸ هـ ق الی ۳۰ /۳/ ۱۴۴۸ هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۴۷۳) دوسیه، به تعداد (۲۷۵) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است؛ که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۰۲) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۷۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۶) دوسیه فیصله شده، (۳۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۴۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۸۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۸) دوسیه فیصله شده، (۱۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غزنی به تعداد (۲۷۵) قطعه وثایق مختلف‌النوع نیز اجرا گردیده‌است.

مسئول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا إله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي تدقیق ریاست د ربیع الأول میاشتې د فعالیتونو لنډ راپور

د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست اړوند قضائي تدقیق ریاست د روان ۱۴۴۸ هـ ق کال د ربیع الأول میاشتې په جریان کې د (۹۸) بېلابېلو موضوعاتو په اړه تدقیقي نظریات ورکړي؛ چې په دې کې د قضائي تدقیق ریاست د (۱۰) جزائي استهداآتو په اړه تدقیقي نظریات، (۶) د تجارتي استهداآتو په اړه تدقیقي نظریات، (۱۷) د مدني استهداآتو په اړه تدقیقي نظریات، (۱۲) د وثایقو استهداآتو په اړه تدقیقي نظریات، (۱۰) د متفرقو استهداآتو په اړه تدقیقي نظریات، (۳۲) د قضائي تفتیش د راپورونو په اړه تدقیقي نظریات، (۱) د عارضینو د عریضې په اړه تدقیقي نظر، (۷) مکتوبي او (۲) مسترد موضوعات شامل دي.

## د زابل ولایت سیوري ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې په هڅو د یو قتل موضوع حل او فصل شوه

د زابل ولایت سیوري ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د مسئولینو په ډېرو هڅو؛ د مصلحینو په منځګړیتوب، په ۵/ ۴/ ۱۴۴۸هـ ق نېټه د یو قتل موضوع حل او فصل شوه. یاده موضوع د سیوري ولسوالۍ اړوند د (ګورجي) په کلي کې رامنځته شوې وه او یو کس پکې په قتل رسېدلی و، چې ابتدائیه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه. په یاده موضوع کې د قاتل کورنۍ د مقتول وارثینو ته شرعي دیت ورکړ او موضوع یې رسمًا پای ته ورسېده.

## د روزګان ولایت دهراود ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د مسئولینو په هڅو د قتل یوه موضوع حل او فصل شوه

د روزګان ولایت د دهراود ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د مسئولینو په ډېرو هڅو؛ د قومي مشرانو او سپین‌ږیرو په منځګړیتوب، په ۷/ ۴/ ۱۴۴۸هـ ق نېټه د قتل یوه موضوع د سولې له لارې حل او فصل شوه. یاده موضوع چې د دوو کورنیو ترمنځ د شخصي ستونزې له امله رامنځته شوې وه او یو کس پکې په قتل رسېدلی و، ابتدائیه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په دقت وڅېړل شوه. وروسته د ابتدائیه محکمې مسئولینو، د یادې ولسوالۍ ولسوال، د امنیه قوماندانۍ مرستیال، د استخباراتو مسئول او قومي مشرانو په هڅو د قتل یوه موضوع د سولې له لارې حل او فصل شوه.

## د لومړي (مرکزي) زون د نظامي محاکمو امنیتي او اجرائیوي قوماندانۍ لپاره نوی قوماندان معرفي شو

د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي ریاست د نظامي محاکمو د امنیتي او اجرائیوي قطعاتو عمومي قوماندانۍ اړوند د لومړي (مرکزي) زون نظامي محاکمو امنیتي او اجرائیوي قوماندانۍ نوی ټاکل شوی قوماندان، محترم الحاج ملا عبدالمنان (ابوطیب)، د روان ۱۴۴۸هـ ق کال د ربیع الآخر میاشتې په ۱۴مه نېټه اړوندو مسئولینو او منسوبینو ته معرفي او رسماً یې خپله دنده پیل کړه.

د نوموړي د معرفت غونډه، چې د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د نظامي محاکمو د امنیتي او اجرائیوي قطعاتو عمومي قوماندان الحاج حافظ حکمت الله آغا (ذهین)، د دغه ریاست د دعوت او ارشاد آمر الحاج مولوي عصمت الله صاحب او نورو مسئولینو او منسوبینو په ګډون درلود، د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه.

وروسته د لومړي (مرکزي) زون د نظامي محکمې رئیس محترم شیخ الله نظر (ثاقب) صاحب وینا وکړه او وویل، مسئولیت الهي امتحان دی، په دغه امتحان کې د ځان کامیابولو لپاره مسئولین مکلف دي، چې د خپل توان مطابق خدمت وکړي او له الله تعالی څخه د مسئولیتونو د ښه ترسره کولو لپاره مرسته وغواړي.

دغه راز د نظامي محاکمو امنیتي او اجرائیوي قطعاتو عمومي قوماندان الحاج حافظ حکمت الله آغا (ذهین) د ناستې ګډونوالو ته د وینا پر مهال له ټولو مسئولینو او منسوبینو وغوښتل، چې له نوي ټاکل شوي قوماندان سره د چارو په لابښه والي کې پوره همکاري وکړي.

د یادونې وړ ده، چې محترم الحاج ملا عبدالمنان (ابوطیب) تر دې مخکې د نظامي محاکمو د امنیتي او اجرائیوي قطعاتو عمومي قوماندانۍ اړوند د هرات زون د قوماندان په حیث دنده ترسره کوله.

غونډه د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۹**
**نېټه: ۱۴۴۸/۳/۲۵ هـ ق**

د سترې محکمې د ریاستونو، تمیزونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: په امنیه قومندانیو او استخباراتو ریاستونو کې د بندیانو په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی عالي مقام حکم

په امنیه قومندانیو او استخباراتو ریاستونو کې د بندیانو په هکله عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی عالي مقام د حکم شمېره (۵۸۲/۲۴۴) مورخ ۱۴۴۸/۲/۱هـ.ق په توسط داسې هدایت کړی دی: «د ښاري محاکمو قاضیان دې په هفته کې یو ځل امنیه قومندانیو او د استخباراتو ریاستونو ته ورځي، هلته دې هغو بندیانو ته چې بري ثابت شوي وي برائت ورکوي، ترڅو بري شوي بندیان ډېر وخت په بند کې پاته نه شي».

بناءً د سترې محکمې محترم مقام د هدایت سره سم د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی عالي مقام د حکم د عملي کولو په موخه تاسو ته واستول شول.

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۰**
**نېټه: ۱۴۴۸/۴/۳ هـ ق**

د سترې محکمې د ریاستونو، تمیزونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د امارتي ځمکو د نمرو د خرڅولو او وېش او د ساختمان د اجازې د ورکړې د قانون د نهه ویشتمې مادې د تعدیل په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی عالي مقام حکم

د امارتي ځمکو د نمرو د خرڅولو او وېش او د ساختمان د اجازې د ورکړې د قانون د نهه ویشتمې مادې د تعدیل په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی عالي مقام حکم شمېره (۲) مورخ ۱۴۴۸/۳/۶هـ.ق د سترې محکمې محترم مقام د هدایت مورخ ۱۴۴۸/۳/۲۹ هـ.ق سره سم د دې متحدالمآل مل په یوه ورقه کې د عملي کولو په موخه تاسو ته واستول شو.

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۱**
**نېټه: ۱۴۴۸/۴/۷ هـ ق**

د سترې محکمې د ریاستونو، تمیزونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

موضوع: د لویو لارو د مرور اړوند (ترافیکي) پېښو د عاملینو د نیولو، محکمې ته د سپارلو او د قربانیانو د وارثانو د حقوقو د تأمین په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی عالي مقام حکم

د لویو لارو د مرور اړوند (ترافیکي) پېښو د عاملینو د نیولو، محکمې ته د سپارلو او د قربانیانو د وارثانو د حقوقو د تأمین په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی عالي مقام حکم شمېره (۵) مورخ ۱۴۴۸/۳/۱۵هـ.ق د سترې محکمې محترم مقام د هدایت مورخ ۱۴۴۸/۴/۶ هـ.ق سره سم د دې متحدالمآل مل په دوو ورقو کې د عملي کولو په موخه تاسو ته واستول شو.

قضائي فرامین او احکام
(۵)



## د مفقودینو د موضوع په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمان

ګڼه: (۴۳/ج ۵)
نېټه: ۱۴۴۱/۴/۱۰ هـ ق

**د مفقودینو د موضوع په هکله د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله تعالی فرمان**

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی آله واصحابه اجمعین.

محاکمو ته ډېر وختونه د مفقود مسئله راجع کیږي، قاضیان په کې متردد وي چې پر کوم قول د فقهاوو فیصله وکړي، ځکه چې په نوموړې مسئله کې د فقهاوو مختلف اقوال راغلي دي، نو د دې لپاره چې د قاضیانو تردد له منځه ولاړ شي قاضیان دې د مفقود د زوجې په هکله که کومه قضیه ورته راجع شي او مفقود د مفقود في الحروب و مظان الهلاک له جملې څخه وي، محکمه دې د احنافو علماوو د قول مطابق چې قراین یې د مرګ څرګندوي او دومره اوږده موده تیره شوې وي چې د قاضي غالب ګمان د مرګ پرې راځي، حکم دې په مرګ د مفقود صادر کړي، له هغه وروسته دې د مفقود زوجې ته د وفات د عدت په تیرولو امر وکړي، له هغه وروسته دې د بل زوج سره د نکاح اجازه ورکړي، البته څرنګه چې دا مسئله د یو چا په مرګ باندې حکم کول دي د ډېر احتیاط په خاطر دې لاندې مراحل هم په نظر کې ونیول شي، په نوموړې قضیه کې دې ټول محاکم د محکمو د عالي اداري سره جریان شریکوي په نوموړې قضیه کې چې د عالي اداري کوم شرایط دي هغه دې په پام کې ونیسي او د عالي اداري تر تایید وروسته دې فیصله مشر تابه ته راجع شي، د مشرتابه تر تایید وروسته دې نافذه شي.

**والسلام**

**امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث**

**مولوي هبة الله اخندزاده**

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc۱٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳